آصف بهاند

۲۰۲۶/۰۹/۰۳

# لنډۍ، د ثبتولو ستونزه

## ۳۹۶مه برخه

پاچا که غوږ لري، نو واوره
خلک له لوږې اولادونه خرڅوينه

مخ دې غمی، څه دې کمی ده
کمی زما په شان د خوارو خلکو وينه

سترګې دې وې، وتلي نه‌وې
وړې جلې پربني چا ورکړې‌دينه

د لنډيو د دې برخې لەپاره دا لاندې لنډۍ راټولې شوې دي:

زما له زړه خبره خدايه
چې ته خبر يې، بل به ولې خبرومه

زما له بني کرکه کېږي
که لالی خوښوي، بيا دې راوړي دسمالونه

زموږه دا قانون ناسم دی
چې لالی مړشي، زه ليوره ته پاتې‌شمه

زه يې په توروسترګو وسوم
کورونه‌ی وران شه، رانجه چا ورکړي دينه

زه چې سهار له خوبه پاڅم
چې لاالله وايم، ليلا خولې ته راځينه

زما بې‌غمه يار ته وايه
غمو کې ډوب يار دې سلام درته کوينه

زما پرمخ دې شوندې مه‌ږده
عادت مې نه‌ده، تول وجود مې لړزوينه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولـئ

پر زړه مې شنهغمونه سوځي
نري، نري لوګي مې پوزې له راځينه

پاچا که غوږ لرې، نو واوره
خلک له لوږې اولادونه خرڅوينه

پرما لا باد د دونيا لګي
د يار پرقبر سپيلني، باد يې وهينه

په غم دې زه لړلی ګرځم
د مازديګرديدن دې نورخلک کوينه

په ژړا نه کېږي جانانه
همت پيدا که چې ماړه په ديدن‌شونه

په خوله ويلای درته نهشم
دننه زړه نه مې د وينو دارې ځينه

په مرګ ويده لالی يې ښکل‌کړ
سر ته يې ټک ورکړ چې زه به څهکومه

مخ دې غمی، څه دې کمی ده
کمی زما په شان د خوارو خلکو وينه

مور يې مورچې ورپسې ګوري
رامداد د تيښتې سړی نه دی، مړ به وينه

سترګې دې وې، وتلې نهوې
وړې جلی پربنې چا ورکړې‌دينه

سر مې که يوماښام سرتور کړ
بيا به دې مور په زيارتونو ګرځوينه

سلګی ـ سلګی ژوندون به تير شي
له تا به هير شي، ما به هسې ځوروينه

سترګې رنجو باندې توريږي
د ظالم‌لور په کې کڅوړې تکوينه

سترګې دې بيا راښکاره نهکړې
پرېږده چې مړ دې د ليدو په تمهشمه

سعودي‌عرب پاچا ته وايه
په مسافرو باندې ونهکړې ظلمونه

ستا به د شنې‌ډولی ارمان وي
زه ارماني ستا د خمارو سترګو يمه


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکې په ځير و لولــئ

سپینهڅنګل راته خوره کړه
د پښوڅپلی مې سرته ډېرې ایښې‌دینه

د سترې‌ژوند، سترې کیسې دي
جانانه مه مې غږوه، ژړا راځینه

د زماني حالات بدل شول
لالي ته وایه چې په وخت کورته راځینه

دا دی له بل وطنه راغلم
پرزړه راوړي مې دلی، دلی غمونه

د لالي سر دې سلامت وي
پر ما که سختې‌ورځې دي، تېرې به شینه

ډېرې زاری مې ورته وکړې
په کومه‌ورځ چې یار له ما نه بېلېدنه

ته رانه جنګ د سترګو غواړې
مور دې نارې‌وهي، تنور لمبه‌کومه

تا په سفر ځواني زړه‌کړه
زه د وطن‌حالاتو زېړه‌پانه‌کړمه

ټَق مې د ملا هډوکي وکړ
چې مې رقیب پرلالي واچول لاسونه

خوب دې زما په شانې ورکـشه
چې لپې - لپې ګولی خورې خوب نه درځینه

جانانه مړ یې که ژوندی یې
ستا په یاری مې نن پانسی ته خیژوینه

چېرته په لارو کې به پروټ‌یم
د جانان غم به رانه ساویستلې‌وینه

له کلیوالو لاټین غواړم
توندهسیلی کې مې خپل یار پسې وځمه

اول مې نه وې، اوس یې وایم
د زړه خبرې مې په خوله راغلې‌دینه

راځه چې درمو بل وطن ته
دلته دا خلک مو یاری ته نه‌پرېږدینه

نصیب مې نه‌شوې، کلیوالي
سوال د مرګي راته کوه چې خاورې‌شمه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

**گرېوان مې شته، تنې مې نه‌شته**
**د عشق قانونه دی، گرېوان خيرې گرځومه**

**وره کې مې ستا اواز ترغوږشو**
**تنور لمبه کړم، که سرتوره وديږمه**

نوربيا

د ليکوال نورې ليکنې په لاندې لينک کې لوستلای شئ:

**http://afghan-german.com/tahLiLha/EditAutor.aspx?95**


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ